مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخر
۲۰۲۲/۰۲/۱۹

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

## شلمه برخه



**طالبان په کابل ښار کې:**

ولسمشر اشرف غني چې د ورځې په دوه بجو او دېرشو دقیقو له کابله تېښته پیل کړه نو د ولسمشرۍ مانۍ د محافظي قطعې مرستیال حامد کرزي ته خبر ورکړ، چې له امله یې دوحې ته د حامد کرزي او ورسره هییت سفر هم پاتي شو.

ښاغلي کرزي له اسوشیټډ پرېس سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي، طالب مشرانو ډاډ ورکړی ؤ چې وسله وال به یې افغان پلازمېنې ته نه داخلېږي.

خو پرځول شوی ولسمشر محمد اشرف غني ناڅاپه او د اټکل خلاف له کابله ووت او ورسره یې ټول جګپوړي چارواکي هم لاړل.

حامد کرزی وایي، همدا لامل شو چې په افغان پلازمېنه کې د حکومت ادانه او امنیتي اداري فلج شوې او ده پخپله طالبانو ته بلنه ورکړه چې کابل ته ننوځي.

حامد کرزي خپله دې ځانګړې مرکه کې ویلي، نوموړی او عبدالله، عبدالله په دوحه کې د طالبانو له مشرانو سره په اړیکه کې وو او پلان دا ؤ چې طالبان له حکومت سره د یو سیاسي جوړجاړي پر بنسټ کابل ته راشي.

حامد کرزی زیاتوي چې پلان دا ؤ چې دی او عبدالله، عبدالله د اګست پر پنځلسمه نېټه دوحې ته لاړ شي او طالب مشرانو سره د سیاسي جوړجاړي په اړه وروستی پرېکړه وکړي. (BBC، ۲۴ لیندی ۱۴۰۰)

کرزی وایي چې د همدې ورځې په ماسپښین طالبانو تماس راسره ونیوه ځو راته ووایي چې«حکومت باید پر خپل ځای پاتي شي او هیڅوک هم له خپله ځایه حرکت ونه کړي ځکه چې هغوی کابل ته د داخلیدو اراده نه لري.» کرزي زیاته کړه: «ما او نورو کسانو له یو شمیر حکومتي مقاماتو سره خبرې وکړې او هغوی ته مو ډاډ ورکړ چې هو! قضیه همداسې ده چې امریکایي ځواکونه او حکومت پر خپل ځای پاتي کېږي او کابل سقوط نه کوي.»

د ماسپښین د (۲) بجو په شاوخوا کې مالومه شوه چې غني له ښاره وتلی دی. کرزي د هغه وخت د دفاع وزیر ته زنګ وواهه او څه یې وکړه چې د کابل د امنیي قوماندان سره په اړیکه کې شي خو مالومه شوه چې هغه هم تللی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دی. کرزي وويل: «هيڅ دولتي چارواکی په کابل کې نه ؤ، هيڅوک نه وو، نه د کابل امنيي قوماندان، نه د قول اردو قوماندان او نه هم نور نظامي قطعات، ټولو [کابل] پرېښي وو.»

دکرزي په خبره، د غني د ساتونکي قطعې معاون کرزي ته زنګ وواهه چې هغه دې ارګ ته ورشي او د قصر او جمهوري رياست مسئوليت دې واخلي. کرزي دا وړانديز رد کړ... .

هغه په يوه مرکه کې پردې ټينګار وکړ چې د غني وتلو د يوه توافق له لارې کابل ته د طالبانو د داخليدو وروستۍ هڅې له ناکامۍ سره مخ کړې.

نوموړي د دې پوښتنې په ځواب کې چې آيا دې ډول يوه توافق ته رسيدل ممکن وو؟ هغه وويل: «قطعاً، قطعاً، دا هغه څه وو چې موږ ورته چمتووالی نيوه، هغه څه چې ما ورته د سولې شورا له رئيس سره په ګډه آرزو لرله او په پام کې وه چې د همدې ورځې په ماښام او يا سبا سهار دوحې ته ولاړ شو څو دا توافقنامه نهايي کړو.» ده وويل: «زه باور لرم چې د طالبانو مشران په دوحه کې په همدې هدف موږ ته په انتظار وو.» (افغان جرمن انلاين پورټال، له دوچ ويله اخيستل شوي.)

حامد کرزی وايي، که ولسمشر غني هېواد کې پاتې شوی وای نو ډېر احتمال ؤ چې له طالبانو سره جوړجاړی وشي او نظام پرځای پاتې شي، ځکه د ده په وينا دوحه کې د طالبانو مشران هم همدې ته په تمه وو. (BBC، ۲۴ ليندۍ ۱۴۰۰)

په دې اړه د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد وايي چې وروسته له نيمې ورځې، شورا غونډه وکړه او د سهارنۍ اعلاميې پر خلاف پرېکړه وشوه (چې په هغې کې ويل شوي وو کابل ته به د واک تر انتقال پورې نه داخليږو.)

په کابل کې د واک او امنيت تشه رامنځ ته شوه، د ښار پوليسو خپلې دندې پرېښې وې او کورونو ته تللي وو، کابل ښاريان په وېره او اندېښنه کې وو، کابل مېشتو لنډغرو د غلو او لوټ تالان لپاره ډلې جوړې کړي وې، د کابل په نوي ښار، جمهوريت روغتون او د ښار په نورو سيمو کې يې شوکمارۍ وکړې، حامد کرزي خپل کور پرېښود او د کابل ښار په کارته پروان کې د ډاکټر عبدالله کور ته ولاړ، هغه وو چې د طالبانو ځواکونه ښار ته ننوتل څو ځايه يې غله ونيول او کابل ښاريان ډاډمن شول. هغه طالبان چې ارګ ته ننوتل د کابل د قول اردو قومندان مولوي حمدالله نورزی او د ده وسله وال کسان وو چې د اګست پر ۱۵ کابل ته د طالبانو له ننوتو، تر ټولو مخکې ولسمشرۍ ماڼۍ ته ننوتل او د ولسمشر د مېز تر شا کېناست.



وړاندې جو بايډن ويلي وو چې د کابل د هوايي ډګر د امنيت په موخه کابل ته پنځه زره امريکايي سرتيري ليږي، کابل هوايي ډګر ته امريکايي عسکر رارسيدلي وو، د کابل هوايي ډګر د امريکايانو په لاس کې ؤ.

د کابل له هوايي ډګر څخه د ملکي الوتکو الوتنې تر څو ساعتونو پورې ځنډيدلې وې. امريکايانو له هوايي ډګره د خپل سفارت کارکوونکي او خپل نور په زرګونو پلويانو د ايستلو چارې په بيړې سره ترسره کولې، کله چې کابل ښاريان خبر شول چې امريکايان خلک امريکا ته ليږدوي نو د کابل په هوايي ډګر يې هجوم وروړ چې له کنټروله ووت. طالبانو او امريکايانو هوايي ډزې کولې خو بيا هم ډېر داسي خلک هوايي ډګر ته ننوتل چې له امريکايانو سره يې هيڅ ډول اړيکي او مسؤليت نه درلود، يو شمېر يې د امريکا پوځي الوتکو ته پورته شول او نور يې په روانو الوتکو پسې په منډو وو، تر دې چې ځينې يې د يوې الوتکې پر وزرونو او ټايرونو نښتي وو چې څو تنه يې له هوا څخه راولويدل، يو تن په ويډيو کې ليدل کيږي چې په هوا کې د الوتکې پر وزر نښتی له تېز باد څخه په عذاب دی، ځينې نور د الوتکو ټايرونو ته ورلاندې شول چې غوښې يې د الوتکې په ټايرونو کې پاتې وې (امريکايانو د پلټونو غوښتنه وکړه) له چا څخه ښځې په هوايي ډګر کې پاتې شوې، له ځينو څخه ښځې په الوتکو کې ولاړې او سړي يې په کابل کې پاتې شول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ






بده خو لا دا چې د اګست پر ۱۹مه نېټه، له یوې کورنۍ څخه یو دوه میاشتنی ماشوم په هوایي ډګر کې پاتې شو او مور پلار یې امریکا ته تللي وو چې وروسته له پنځو میاشتو د هغه کس له خوا چې ماشوم یې خپل کور ته وړی او ساتلی ؤ، په داسې حال کې ماشوم د هغه نیکه ته ورسپاري چې پر مخ یې اوښکې رواني وې.

داسې یوه ناوړه او شرموونکې پېښه د نړۍ په تاریخ کې نه ده پېښه شوې چې د افغانانو او امریکایانو لپاره تل پاتې تاریخي شرم دی، د افغانانو لپاره له دې امله د شرم خبره ده چې دوی له طالبانو څخه دومره په وېره کې وو چې خپل هېواد پرېږدي، ځانونه مرګ ته ورکوي، د مرګ په بیه یې امریکا ته د تللو ملا تړلې وه، د امریکایانو لپاره ځکه شرم دی چې دا د وېرې او ناهیلی حالت دوی رامنځ کړی دی، د دوی په زرګونو ځواکونه وه کړی شول کابل هوایي ډګر ته د خلکو د هجوم مخه ونیسي.



دا مهال زموږ ځینو ساده خپلوانو موږ ته ټیلفونونه وکړل ویل یې: ټول خلک امریکا ته ولاړل، تاسې په کور کې ناست یاست؟ ژرترژره هوايي ډګر ته ځانونه ورسوئ، که نه نو پاتې به شئ، زموږ د یو خپلوان له ډېر ټینګار وروسته اړ شوم چې ورته ووایم موږ اوس نه ځو تاسو لومړی ولاړ شئ موږ به وروسته درپسې درځو او هغه په غوښې باندې د سپور سړي توکه مې ورته وکړه چې په یو کلي کې خلک د خیرات ډوډۍ ته روان وو په داسې حال کې چې نړۍ، نړۍ باران اورېده، د باران له کبله خلکو ته ډوډۍ د کور په یوه اوږده برنډه (سته) کې ورکول کېده، کلیوال اړ وو چې د باران له امله د تړل شویو غواګانو له څېرکي تېرشي، یو تن کلیوال چې غوښتل یې د ډوډۍ ځای ته ژر ځان ورسوي، له لیکي ووت، د یو پروت غوایي څخه د تېریدو په حال کې ؤ چې په دې وخت کې غوایي پورته شو او سړی د غویي پر ملا کېناست، غوایي ترپکي وکړې او سپور سړی په ځمکه د غوایانو په غوشایو کې ولوید، خلکو ور پورې وخندل، د کلي ملک غږ وکړ: پرېږدئ چې لومړی دا د خیرات ډوډۍ سپاره وخوري.

په کابل هوایي ډګر خو دا ډول ناوړه حالت روان ؤ خو د پکتیا ولایت د ځدرانو په دره کې (۸۰۰۰) امریکا پلوه عسکر د طالبانو لخوا درول شوي وو، دا داسې ځواکونه وو چې کله په ۲۰۰۱ ز. کال کې هغه مهال چې امریکایانو په خوست کې پوځي او استخباراتي اډې جوړې کړې نو د امریکا د (سي، ای، ای) سازمان له خوا ډېر کسان په دندو ګمارل شوي وو چې د کمپاین(KPF) په نوم یادیدل. دغه کسان د امریکایانو لخوا ډېر بې رحمه، سخت دریځي او د غوڅ عمل په کولو سره روزل شوي وو. دا وخت چې امریکایان د خپلو دا ډول همکارانو په ایستلو لګیا وو، نږدې (۸۰۰۰) د سي، ای، ای، افغان سرتیري له خوست څخه د کابل پر لور روان وو چې د ځدارانو په دره کې طالبانو لاره پرې وتړله. طالبانو نه غوښتل چې دوی کابل ته له وسلو سره دننه شي، شاید چې طالبان به په وېره کې وو چې هسې نه دا وسله وال په کابل کې برید پیل کړي، په دې اړه په فیسبوک کې د خلکو لوی غبرګونونه رامنځ ته شول، خلکو ویل:«د خبرو له لارې دې مشکل حل شي که نه لویه فاجعه به رامنځ ته شي.» په دغو محاصره شویو کسانو کې زموږ خپلوان، دوستان او کلیوال هم موجود وو، نو زه له دوی سره په اړیکه کې وم، دوی راته وویل چې په لومړیو کې مسئولو امریکایي چارواکو موږ ته ډاډ راکړ چې تاسو به حمایه کوو او د پخوا په څېر مو ملاتړ کوو. خو وروسته یې له موږ سره اړیکې پرې کړې.

له بلې خوا د دغو درول شویو کسانو کورنۍ او خپلوان ډېر په اندېښنه کې وو، له خوست څخه ډېر سپینږیري او مشران د ځدرانو درې ته ولاړل تر څو له طالبانو سره خبرې وکړي، هغه وو چې د کمپاین قوماندانانو ومنله چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بېرته خوست ته درومي او وسلې به د خوست د ملي اردو په لواء کې سپاري. کله چې د کمپاين ځواکونه د خوست پر لور حرکت وکړ، نو د خوست په ښار کې آوازه خپره شوه چې کمپیاین ځواکونه راوګرځیدل، غواړي خوست بیا ونیسي، خوست ښار وتړل شو او یو شمېر طالبان هم په تېښته شول.

دغو کسانو ویل چې موږ په دې پوه شوو چې امریکایان غواړي موږ له طالبانو سره په جګړه کې ښکېل کړي، په داسې جګړه کې چې هېڅ ډول ملاتړ ونه لرو.

د امریکایانو لپاره د افغانانو وژل یو ډول ښکار وو، داسې که د هرې خوا کسان وژل شوي وای دوی ته د خوشالۍ خبره وه، ځکه چې دواړه خواوې افغانان وو چې په حقیقت کې دوی د ټولو افغانانو دښمنان دي. د کمپاین غړي په همغه شپه او تر ځو ورځو پورې کابل ته په بیلابیلو لارو او تکتیکونو سره ورسیدل، سره له دې چې طالبانو په دوی پسې پلټنه نه کوله. په پای کې د امریکایانو لخوا له هېواد څخه وایستل شول.

د کابل په هوايي ډګر کې د بهرنیو ځواکونو او افغان همکارانو (سره د کورنیو) د ایستلو چارې په چټکۍ رواني وې او پر هوايي ډګر د کابل په زرګونو ښاریانو او له ولایتونو د راغلیو کسانو هجوم دوام درلود چې د تلې میاشتې په ۴مه (د اګست ۲۶) نېټه، د هوايي ډګر د ننوتلو په (شنه دروازه) کې یوه خونړۍ چاودنه وشوه، چې له امله یې شاوخوا (۱۸۰) تنه افغانان چې ډېرې یې ښځې او ماشومان وو، ووژل شول او (۱۳) تنه امریکایي عسکر هم وژل شوي دي، د دغه برید مسؤلیت داعش ډلې په غاړه واخیست. امریکایي چارواکي وایي د کابل په هوايي ډګر د خلکو په ګڼه ګوڼه باندې برید، د داعش یو ځانمرګي (عبدالرحمن لوګري) ترسره کړی ؤ چې په هند کې د انجینرۍ په پوهنځی کې محصل پاتې شوی ؤ.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې د امریکا د نظامي او استخباراتي چارواکو له خولې راپور ورکړی چې طالبانو د اګست په ۱۵ مه نېټه کابل ته له ننوتلو وروسته عبدالرحمن له زرګونو نورو کسانو سره یو ځای له زندانه خوشې کړ.

دغو امریکایي چارواکو ویلي دي چې امریکایي عسکرو د ۲۰۲۱ د جولای په لومړۍ نېټه د بګرام له هوايي ډګره ووتل او شپږ اونۍ وروسته طالب جنګیالي ورننوتل او د زندان دروازې یې پرانیستلې.



نیویارک ټایمز زیاتوي چې طالبانو (۱۲۰۰۰) زندانیان خوشې کړي دي چې (۶۰۰۰) طالبان، (۱۸۰۰) د داعش او لسګونه د القاعده غړي په کې شامل وو چې په دغې ډلې کې یو هم عبدالرحمن لوګری ؤ.

خو طالبانو وویل چې زندان ته د طالبانو تر رسېدو وړاندې د زندان دروازې پرانیستل شوې وې او زندانیان آزاد شوي وو.

امریکایي چارواکي وایي چې سي آی اې په ۲۰۱۷ ز. کې د هند استخباراتو ته خبر ورکړی ؤ چې لوګری په ډیلي کې د یو برید تابیا نیسي. وایي چې هند دا پلان خنثی کړی، عبدالرحمن لوګری یې نیولی او هغه یې امریکایي چارواکو ته سپارلی ؤ. امریکایي چارواکو بیا هغه د بګرام په زندان کې بندي کړ او د طالبانو تر راتګ پورې هلته ؤ.

)https://da.azadiradio.com/a/31636351.html(

جو بایډن د دغې خونړي برید په هکله وویل:«... موږ یو هیرو چې څوک په دې برید کې لاس لري.» هغه زیاته کړه چې امریکایي ځواکونو ته یې ویلي دي د برید عاملانو ته غوځ او سخت ځواب ورکړي.» (دبی - العربیه فارسی)

د جو بایډن سخت او غوڅ ځواب دا ؤ چې د اګست په ۲۹/ ۲۰۲۱ز، کال د کابل هوايي ډګر ته نږدې یې یو کور بمبار او ویجاړ کړ، په هغه کور باندې د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په بمبار کې د یوې کورنۍ (۱۰) تنه غړي په دې نوم ووژل شول چې ګواکې په هغې کور کې داعشیان ځای پرځای دي، په وژل شویو کې (۷) تنه ښځې او ماشومان شامل دي چې تر ټولو وړوکی یې (۲) کلن ماشوم دی، لږ وروسته جنرال (کېنټ مکنزي) د امریکا د مرکزي قوماندې مشر بښنه وغوښته. دا د امریکایي ځواکونو وروستنی ترهګر عمل ؤ چې د خپلو ړندو او ګنو استخباراتو د ناسمو مالوماتو پر بنسټ، وروسته له ډېر غور او دقت څخه یې تر سره کړ، تېر شل کاله دغو دولتي او نړیوالو ترهګرو د افغانانو بې شمېره کورونه بمبار کړي، په دې ډول په زرګونو کورنۍ یې تباه کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

 

وروسته د څو میاشتو له تېرېدو د امریکا متحده ایالاتو دفاع وزارت وویل چې په کابل کې د اګست د ۲۹ نېټې د امریکایي بې پیلوټه الوتکي له خوا د یوې کورنۍ لس تنه غړي بې ګناه وژل شوي دي له دې امله تاوان (غرامت) ورکوي، د امریکا دفاع وزارت ویاند جان کربي ومنله چې د دغې کورنۍ غړي بې ګناه وو او له داعش سره یې کومه اړیکه نه درلوده، سره له دې چې په لومړیو کې امریکایانو دعوه کوله چې د داعش ډلې غړي یې په نښه کړي دي.
(راديو آزادی جمعه ۲۹ دلو ۱۴۰۰ کابل ۰۳:۳۶)

پوهیږو چې امریکایانو په افغانستان کې د پورته یادې کورنۍ په څېر، په زرګونو کورنۍ وژلې دي او کورونه یې ویجاړ کړي دي، دوی باید تولو زیانمنو افغانانو ته غرامت ورکړي.



په پای کې امریکایي ځواکونه له ټاکل شوي نېټې: د اګست ۳۱/ ۲۰۲۱ز، کال څخه (۲۴) ساعته وړاندې د اګست په ۳۰مه نېټه، وروسته څه کم، له شلو کالو اشغال څخه له هېواده ووتل چې د دوی (سي ۱۷) ډوله وروستنۍ پوځي الوتکه وه چې له کابله پورته شوه، د امریکا سفارت شارژه فیر (راستویلسن) او د امریکایي ځواکونو وروستی قوماندان جنرال (کریس ډانهو) د یو شمېر پوځیانو سره له افغانستانه ووتل. طالبانو د کابل هوایي ډګر په خپله ولکه کې واخیست، کابل ښاریان د امریکایي الوتکو له شور او زوږ څخه په آرام شول. امریکایانو د کابل په هوایي ډګر کې الوتکې، چورلکې او نور توکي تخریب کړي دي چې د طالبانو چارواکو یې په لیدو سره سخته خواشیني څرګنده کړه.

۱۴۰۰/۱۱/۲۹ هـ ش

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ